AJSC
Afghan Journalists Safety Committee
کمیته مصونیت خبرنگاران افغان
د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه

# د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه

## د ۲۰۲۰ کال د لومړیو شپږو میاشتو رپوټ




/ajsc_afg /safetycommittee www.ajsc.af

# لرلیک

سریزه ........ ۱
میتوډلوژي ........ ۲
د ۲۰۲۰ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د خبریالانو وضعیت ........ ۳
د کرونا ناورین پر مهال معلوماتو ته د لاسرسي وضعیت ........ ۹
لویې ښارنوالۍ ته د ټولنیزو رسنیو د ۳۹تنه کارونکو ورپیژندنه ........ ۱۱
د سولې خبرې اترې او د بیان ازادي ........ ۱۱
د بیان د ازادۍ د ساتنې لپاره د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د لارې نقشه ........ ۱۲
د ټولیزو رسنیو د قانون د تازه طرحې ستونزه ........ ۱۲
پایله ........ ۱۴
وړاندیزونه ........ ۱۵



**سریزه**

۲۰۲۰م کال د کرونا نړیوال ناورین سره یوځای پیل شو. په افغانستان کې سره له دې چې ددغه ویروس خپریدل د معلوماتو د رسونې په برخه کې د محدودیتونو د رامنځته کیدو لامل شو، خبریالان او رسنۍ و توانیدل چې د هیواد په کچه د پیښو اړخونه تر خبري پوښښ لاندې راولي او لازم اطلاعات له خلکو سره شریک کړي. د کرونا په اړه د هراړخیزه معلوماتو خپراوی او د هغې د زیانونو او مخنیوي په اړه پوهاوي ځانګړی اهمیت درلود. له همدې امله، رسینو له دغه ویروس سره د مبارزې په کار کې ځانګړی رول درلود. په دغه موده کې د کرونا له امله اقتصادي راولاړ شوي زیانونه د دې لامل شوو چې د هیواد ټولې رسنۍ له جدي اقتصادي ستونزو سره مخ شي او خپل ګڼ شمیر کارکوونکي له کارونو ګوښه کړي او یا هم ورته له معاش پرته رخصت ورکړي. لسګونو رسنۍ د اقتصادي ستونزو له امله د تړل کیدو له ګواښ سره مخ شوې، دغه وضعیت هغه څه چې په افغانستان کې د یوې لویې لاسته راوړنې چې د بیان ازادي او د رسنیو ګڼ والی وه کمزوری کړل.

د سولې خبرې اترې او د بیان د ازادۍ د محدودیدلو په اړه د افغانستان د رسنیزې ټولنې اندیښنې بل هغه لوی تشویش وه چې د ۲۰۲۰م کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د افغانستان د رسنیو ټولنه ورسره مخ وه. د حکومت له لوري د رسنیو د ازادۍ ساتنې ته جدي پاملرنه نه کول او له دغه ارزښت سره د طالبانو د ډلې مخالفت ددې لامل شوی چې د بیان د ازادۍ د راتلونکې په اړه ډاډ زیاتمن شي.

اطلاعاتو ته نه لاسرسی او د خبریالانو او رسنیو پروړاندې پراخ ګواښونه له هغو جدي ستونزوڅخه دي چې پر خپل ځای پاتې دي او حکومت په دې برخه کې ګوټلي ګامونه نه دي اخستي. په شپږو لومړیو میاشتو کې لسګونو خبریالان له ډول ډول تاوتریخوالو سره مخ شوي دي.

د حکومت له لوري د ټولییزو رسنیو د قانون نوې طرحې هم د بیان د ازادۍ د محدودولو په اړه اندیښنې رامینځته کړې؛ چې له نیکه مرغه د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې، د افغانستان ژورنالیستانو او رسنیزو بنسټونو، ټولنیزو او مدني سازمانونو د عدالت غوښتنې له امله ولسمشرۍ ماڼۍ دغه طرحه د هیواد له پارلمانه بیرته وغوښته او د لا زیات تدقیق او له خبریالانو و د خبریالانو له ملاتړو او صنفي بنسټونو سره د سلا مشورې په خاطر د ولسمشرۍ دویم معاونیت ته وسپارل شوه.
دا د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې دیارلسم رپوټ دی چې د خبریالۍ د کار او بیان د ازادۍ په اړه د کره شمیرو، معلوماتو او تحلیل په خاطر خپریږي؛ ترڅو هغو کسانو ته سم او دقیق معلومات په لاس ورشي کوم چې غواړي د هیواد د خبریالانو، رسنیزو کارکوونکو او بیان د ازادۍ د وضعیت په اړه خبر واوسي او یا هم په دې برخه کې د تحقیقي او تحلیلي رپوټونو د چمتو کولو لپاره دغه شان معلوماتو ته اړتیا ولري.
په دغه رپوټ کې د۲۰۲۰م کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د خبریالانو او رسنیو د کار کوونکو پر وړاندې د تاوتریخوالو او ګواښونو په اړه د معلوماتو د شریکولو ترڅنګ، د کرونا ناورین پر مهال د بیان د ازادۍ د وضعیت، د خبریالانو او رسنیزو کارکونکو د خوندیتوب په خاطر د حکومت او رسنیو د اقداماتو او هم د بیان د ازادۍ او د خبریالانو او بیان د ازادۍ د وضعیت د لا ښه کیدو په خاطر به مشخص وړاندیزونه ولرو.

**میتوډلوژي:**

د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه د خبریالانو او رسنیو د کارکوونکو د یوې ملاتړې او د بیان د ازادۍ د وضعیت څارونکې اداري په توګه، په پرله پسې توګه هرو شپږو میاشتو او یوه کال کې د خبریالانو او رسنیو د کارکوونکو پروړاندې د تاوتریخوالي، د بیان د ازادۍ د پرمختګ، د رسنیو د ازادۍ او خبریالۍ د مسلک په اړه رپوټونه چمتو کوي.

کمیټې ددغو رپوټونو د چمتو کولو او خپرولو لړۍ له ۲۰۱۳ کال راهیسې پیل کړې ده او د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالو او ګواښونو د شمیرو د تثبیت لپاره د یوې دقیقې کړنلارې په کارولو سره، دغه شان پیښې ثبتوي او په خپلو شپږمیاشتنیو او کلنیو رپوټونو کې ځای ورکوي. کمیټه ددغو قضیو د راټولو لپاره، مشخصه پالیسي او کړنلاره لري او ټولې قضیې ددغو اسنادو په رڼا کې راټولوي او ثبتوي.

د کمیټې د کړنلارې پربنسټ د خبریالانو او رسنیزو کارکوونکو لپاره مشخص تعریف موجود دی او هم د تاوتریخوالي او ګواښ تعریف شته. کمیټه هغه موارد چې ددغو اسنادو له تعریفونو سره برابر نه وي نه ثبتوي.
که چیرې یو خبریال د شخصي مسایلو یا هم د کورنیو دښمنیو په خاطر ګواښل کیږي یا هم وژل کیږي، ځکه دغه موضوع د هغه د خبریالۍ له کار سره هیڅ ډول تړاو نه لري، نو کمیټه دغه قضیه د خبریال پر وړاندې د ګواښ یا تاوتریخوالي د قضیې په توګه نه ثبتوي.

باید ووایو چې کمیټه ددغه شان قضیو د ثبت لپاره ځانګړي فورمونه لري، په زونونو او ولایتونو کې د کمیټې استازي او زموږ ولایتي همکاران ددغو فورمونو له مخې قضیې په دقیقه توګه د کمیټې له کاري اصولو سره سم ثبتوي. هغه قضیې چې له ولایتونو نه د کمیټې مرکزي دفتر ته استول کیږي د کمیټې د ارزونې ډلې لخوا څیړل کیږي او ددې ډلې له تاییدۍ وروسته د کمیټې د قضیو په ډیټابیس کې ثبتیږي.

ددغه رپوټونو یوه بله بنسټیزه کارونه دا ده چې معتبره کورنۍ او بهرنۍ اداري کولای شي له دغو رپوټونو نه د خبریالانو او رسنیو د خوندیتوب او دغه راز د بیان د ازادۍ د پرمختګ په اړه کارواخلي او د معلوماتو له مخې یې، په افغانستان کې د بیان له ازادۍ د ملاتړ لپاره خپلې پالیسۍ او کړنلارې جوړې کړي.

**د ۲۰۲۰ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د خبریالانو وضعیت:**

د ۲۰۲۰م کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۴۲ پیښې ثبت کړې دي چې د کمیت له اړخه د تیر کال له شپږو لومړیو میاشتو سره ډیر توپیر نه لري، ځکه چې د تیرکال په لومړیو شپږو میاشتو کې د کمیټې لخوا د تاوترخوالي ۴۵ پیښې ثبت شوې وې. د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالو او ګواښونو له ټولو مواردو ۲یې د وژنې، ۱۱د ټپي کیدو، ۶ د وهل ټکولو، ۹ د سپکاوي، ۷ د ګواښنې، ۴ د تښتونې، ۲ دغلا، او ۱مورد هم ناقانونه چلند ( د میاشتني معاش نه ورکول) دي.

د تاوتریخوالو د عاملینو په ډله کې په دغو شپږو میاشتو کې د طالبانو او د داعش ډلې د تاوتریخوالو او ګواښونو د ۱۸ پیښو د مسوولیت په لرلو سره، د خبریالانو پر وړاندې د ترټولو زیاتو تاوتریخوالو مسوولین دي. له دې سره باید په یاد ولرو چې د تاوتریخوالو د شدت او جرمي قباحت له اړخه کوم څه چې د دولت مخالفینو د خبریالانو پروړاندې ترسره کړي له حکومتي هغو څو ځله درانه او بد دي، ځکه تروریستي ډلې د خبریالانو په وژولو، تښتونو او ټپي کولو تورني دي. په حکومت پورې اړوند کسان بیا په دویمه درجه کې دي او د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالی د ۱۳ قضیو مسوولیت لري . زورواکي ۳ غله، د ۲ ناپیژنده کسان، ۵ او د رسنیو مسوولین د ۱مورد تاوتریخوالي مسوولین پیژندل شوي دي.

د یادونې وړه ده چې په دغو شپږو میاشتو کې، د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې ته ۸ نورې قضیې هم رسیدلې دی چې د خبریال یا شکایت کوونکي کس له مسلکي کار سره یې تړاو نه دی لرلی او ددغو پیښو علت د شکایت کوونکي کس شخصي ستونزې وې. په دغو کې بیا ۲مورده د وژنې، ۲ د غلا، ۲د ټپي کیدو، ۱د وهل ټوکلواو ۱ مورد د تښتونې شامل دي.
باید وویل شي چې په دغو شپږو میاشتو کې په ټوله کې شپږ رسنۍ ګواښل شوې دي.

د هیواد د پلازمینې په زون کې د ۲۲ مورده تاوتریخوالو او ګواښونو پیښو ثبتیدا، دغه زون د خبریالانو لپاره تر ټولو ناسم زون معرفي کړی دی. سویل او سویل ختیځ زون بیا هریو کې د ۱ مورد د پیښیدو له امله دغه زونونو بیا د خبریالانو پروړاندې د کم تاوتریخوالي لرونکو زونونو په توګه پیژندل شوي دي. د ورکړل شویو شمیرو له جملې نه ۷مورده تاوتریخوالی له ښځینه خبریالانو او رسنیزو کارکونکو سره شوی دی.

د ۲۰۲۰کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د کرونا ویروس د خپریدو له کبله چې په ټولیزه توګه په هیواد کې د تاوتریخوالي کچه را ټیټه شوې هم وه او د خبریالۍ کار یې را محدود کړی و بیاهم د خبریانو پروړاندې د تاوتریخوالو د ۴۲پیښو ثبتیدل د پام وړ شمیره ده او د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالو په اړه د جدي اندیښنې وړ ده.

**د قضیې څرنګوالی:**

د ۱۰/۳/۲۰۲۰تاریخ باندې طالبانو د یوې افغان رسنۍ خبریال د زابل د خانوار ولسوالۍ په لار کې له ټکسي نه را کوز کړ او ویې تښتاوه، طالبانو ددغه کار دلیل د دوی پرضد او د حکومت په ګټه د یاد خبریال له لوري د رپوټونو لیکل وښوودل اوهمدارنګه ادعایې وکړه چې په دغو رپوټونو کې یې کله طالبانو ته سپکاوی هم کاوه.

**د قضیې څرنګوالی:**

د ۱۰/۲/۲۰۲۰په خوست ولایت کې د یوه خصوصي ټلویزون د خپرونې یو مسوول وروسته له هغه د ملکي روغتون د مسوولینو لخوا ورټل شو چې د خوست ملکي روغتون کې یې پر ستونزو او نیمګړتیاوو خپرونه جوړه کړې وه او له بیلا بیلاو ادرسونو ورته ګواښ وشو چې باید دغه خپرونه خپره نکړي.

**د قضیې څرنګوالی:**

د ۱۵/۴/۲۰۲۰په کابل کې د یو خصوصي ټلویزون ولایتی خبریال د افغان خبریالانو کمیټې سره اړیکه ونیوله او ویې ویل چې د طالبانو له لوري ګواښل کیږي او علت یې هم د هغه د رپوټونو نه برابروالی ښیي.

**د قضیې څرنګوالی:**

د ۳۰/۵/۲۰۲۰کله چې په کابل کې د یو خصوصي ټلویزون د کارکونکو موټر له دفتره د کور په لور روان و د یوه ځای پرځای شوي ماین له چاودنې سره مخ شو، چې له امله یې یو خبریال او یو موټرچلونکی ووژل شو.

**د قضیې څرنګوالی:**

د ۲۰۲۰/۵/۷د هرات ولایت د یوې خصوصي رسنۍ یو خبریال له هغه وروسته چې د افغانستان او ایران ترمینځ سرحدي سیمه کې د ایراني سرتیرو له لوري په سیند کې د افغانانو د غرقولو په اړه له یوشمیر رسنیو په ځانګړې توګه له ایران انټرنیشنل شبکې سره مرکې وکړې له جعلي ادرسونو او وروسته هم د ایراني رسنیو له لوري له یوه امریکایي سرتیري سره په لاس یو کولو او د ایران پرضد د دسیسو په جوړولو تورن شو او وایي چې څوځو ځله یې لیدلي چې ناپیژنده کسان یې د کور تر وره پورې تعقیبوي.


## د ۲۰۲۰ کال د شپږ و میاشتو پرتله د ۲۰۱۹ کال له شپږو میاشتو سره

| قضيې | ۲۰۱۹ | ۲۰۲۰ | د تیر کال د لومړۍ نیما یي راپورټ (کموالی/ لوړوالی) |
| --- | --- | --- | --- |
| ټولې قضيې | ۴۵ | ۴۲ | ۶,۶۶ سلنه کموالی |
| وژل شوي | ۳ | ۲ | ۳۳,۳۳ سلنه کموالی |
| ټپیان | ۶ | ۱۱ | ۸۳,۳۳ سلنه لوړوالی |
| سپکاوی | ۱۹ | ۹ | ۵۲,۶۳ سلنه کموالی |
| وهل ټوکل | ۵ | ۶ | ۲۰ سلنه لوړوالی |
| ګواښ | ۱۰ | ۷ | ۳۰ سلنه کموالی |
| ایستل | ۱ | ۰ | |
| نیول | ۱ | ۰ | |
| غیرقانوني چلند | ۰ | ۱ | |
| برمته | ۰ | ۲ | |
| غلا | ۰ | ۴ | |


## د تاوتریخوالی عاملین په ۲۰۲۰

| عاملین | مورد | سلنه |
| --- | --- | --- |
| دولت | ۱۳ مورد | ٪۳۰/۹۵ |
| د تاوتریخوالی عاملین | ۱۸ مورد | ٪۴۲/۸۵ |
| ناپیژنده کسان | ۵ مورد | ٪۱۱/۹۰ |
| زورواکی | ۳ مورد | ٪۷/۱۴ |
| غلانو | ۲ مورد | ٪۴/۷۶ |
| د رسنیو مسوولین | ۱ مورد | ٪۲,۳۸ |


# د تاوتریخوالی شمیرې د زونونو په اساس



له ۴۲ قضیو نه ۷ مورده يې ښځینه خبریالانو پورې اړوند دي چې ۱۶,۶۶ سلنه جوړوي




## د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالو شمیرې د ولایتونو په اساس



د کرونا ناروغۍ په نا څاپه خپریدو سره د رسنیو او خبریالانو وضیعت تر پخوا زیات له جدي ګواښونو سره مخ شو، چې له امله یې زیاتې رسنۍ له مالي ستونزو سره مخ شوې او خپلې خپرونې یې کمې کړې حتا ځینې رسنۍ له زوال سره مخ شوې. له دې کبله زیات خبریالان بې کاره شول او یا د رسنیو له خوا بې معاشه رخصت شول.

د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمېټې د مشخصو وړاندیزونو په وړاندې کولو سره له حکومت او نړیوالې ټولنې څخه وغوښتل چې د کرونا وبأ په جریان کې له رسنیو او خبریالانو سره مرسته وکړي او د ډیموکراسۍ دغه ستر ارزښت چې د تېرو دوو لسیزو له سترو لاسته راوړنو څخه دی له منځه تلو څخه وژغوري.

د قرنطین په جریان کې ، لسګونو چاپي، تصویري او غږیزې رسنۍ د تړل کیدو له خطر سره مخ شوې. همدارنګه ډېرو رسنیو د قرنطین په جریان کې د عوایدو د لږېدو شکایت درولود او ویل یې چې که چیري وضعیت همداسې دوام وکړي نو دوی به اړ شي، چې خپل فعالیتونه پای ته ورسوي.

له بلې خوا، د کورونا له امله رامینځته شوي ناڅرګند وضعیت، ورځني کاروبار ته جدي زیان رسولی، چې د رسنیو پر مالي وضعیت یې هم مستقیمه اغېزه کړې ده او ژورنالیستان یې د بیکارۍ یا بې معاشۍ له خطر سره مخ کړي دي.

ښځینه خبریالانو د کرونا په دې بحران کې تر ټولو زیات زیان لیدلی. ښځینه خبریالانې د رسنیو د کمو مالي امکاناتو له کبله لومړنۍ کارکوونکې دي چې له کاره ایستل کېږي او دایمي یا موقتي بې کارۍ سره مخ کېږي.

پورتني وضعیت ته په پام سره په خصوصي سکتور کې د کارکوونکو د تقاعد د حق اړتیا، په ځانګړې توګه د خبریالانو او رسنیو کارکوونکو ته خورا مهم دی. له دې سره له خبریالانو د ملاتړ صندوق باید تر دې زیات تقویه کړل شي او ورته یو روښانه او اغیزناک  میکانیزم جوړ شي ترڅو وکړای شي په بیړنیو حالاتو کې خبریالانو سره مرسته وکړي.

ددې په خوا کې د رسنیو د زیانمن کیدو او له خبریالانو، رسینو او د رسنیو له کارکونکو سره د مرستې میکانیزم له وړاندې باید په سمه توګه طرحه شي، او په دې برخه کې شفافیت باید په جدي توګه په پام کې ونیول شي.

که څه هم د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمېټې له رسنیو سره د مرستې وړاندیز چمتو کړ او له ښکیلو اړخونو نه یې وغوښتل چې رسنیو ته د بې پریتوب د اصل په پام کې نیولو سره هغو رسنیو سره مرسته وکړي چې د کرونا ویروس له امله له پراخو اقتصادي ستونزو سره مخ شوې دي، خو تر اوسه هیڅ یوې ادارې هم په دې برخه کې مرستې ته تیاری نه دی ښودلی.

**د کرونا ناورین پر مهال معلوماتو ته د لاسرسي وضعیت**

پداسې حال کې چې افغان خبریالان په عادي شرایطو کې لا معلوماتو ته لاسرسي کې له ډېرو ستونزو سره مخ دي ، د کرونا په سخت وضعیت کې دغه ستونزه څو چنده زیات شوې وه. د کمیټې د معلوماتو له مخې حکومت خپلو ویاندویانو او مسوولینو ته لارښوونه کړې وه چې په منظمه توګه د حکومت د رسنیو مرکز ته حاضر شي او یا هم د انټرنیټ او ټلیفون له لارې خبریالانو سره اطلاعات شریک کړي، مګر یو شمیر چارواکي او ویاندویان له کاري ځای څخه د لیرې والي او په قرنطین کې پاتې کیدلو په څیر عذرونو او پلمو سره ځواب ویلو ته نه حاضریدل. ځینې وخت مبهم ، نیمګړي ، یا عمومي معلومات خبریالانو ته ورکړل شوي چې د جزییاتو ترلاسه کول یې بله ستونزه وه. لکه د افغانستان د عامې روغتیا وزارت لخوا د جون په ۲۶ اعلان شو چې په تیرو ۲۴ساعتونو کې په افغانستان کې د کرونا هیڅ مثبته پیښه نه وه ثبت شوې. دا ریښتیا نه وه. تر دې وړاندې یاد وزارت وویل چې په هیواد کې د کرونا احصایه کمه شوې ، پداسې حال کې چې څو ورځې وروسته ولسمشر وویل چې کرونا د خپریدو په وروستي حد کې ده او لا خپریږي.

د کرونا ناورین پر مهال اطلاعاتو ته د نه لاسرسي ستونزه د خبریالانو له مهمو شکایتونو څخه یو و. د همدې لپاره اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسیون وایي چې د اطلاعاتو ورکولو کې د غفلت له امله څلورو دولتي ادارو ته په لیکلې بڼه اخطاریې ورکړل شوې دي. د دې اداري مشر وایي دوی اطلاعاتو ته د اسانه لاسرسي قانون پلي کولو لپاره یوه تګلاره جوړه کړې او دغه اخطاریې اړوندو ادارو ته د خبریالانو له شکایتونو څخه وروسته ورکړل شوې دي .خو له بدمرغه لاهم د حکومت له لوري خبریالانو ته د اطلاعاتو ورکول د یوې جدې ستونزې په توګه پر خپل ځای پاتې او لاهم د خبریالی کار په پرلپسې توګه تر اغیزې لاندې راولي.
په دولتي ادارو کې د اطاعت نشتوالی او د مراتبو د لړۍ نه مراعتول د اطلاعاتو د ورکړې برخه کې د ستونزو لامل شوي او هغه خبریالان چې غواړي له دولتي ادارو معلومات ترلاسه کړي د بریوکراسۍ له ستونزې سره مخ کیږي او لاهم ځینې ادارې د لوړپوړي مقام د حکم غوښتنه کوي. په داسې حال کې چې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون یې میکانیزم روښانه کړی دی.

په ولایتونو کې بیا وضعیت تر دې هم خراب دی ، د ولایتي چارواکي تر ټولو ساده پلمه دا ده چې هغوی مالومات له پلازمینې کابل سره شریکوي ، په اکثره ولایتونو کې خبریالان شکایت کوي چې حکومتي چارواکي په ځانګړې ډول د قول اردوګانو او امنیت مسوولین له دوی سره اطلاعات نه شریکوي ، وایي چې دوی خپل معلومات له کابل سره شریک کړي دي او خبریالان کولی شي هغه معلومات له کابل څخه ترلاسه کړي چې دوی ورته اړتیا لري . دا کړنې له یوې خوا د خبریالانو وخت ضایع کوي ، له بلې خوا د حقایقو پټولو لپاره زمینه برابروي .

د بهرنیو او کورنیو رسنیو ترمینځ تبعیض بیا بله د پام وړ ستونزه ده. په ډېری مواردو کې لومړی معلومات بهرنیو رسنیو ته ورکول کیږي او د حکومت چارواکي حتا حاضر نه دي چې له کورنیو رسنیو سره خبرې وکړي.
او بلاخره ، خبریالانو او رسنیو اطلاعاتو ته د نه لاسرسي له امله د ۲۰۲۰کال د فبرورۍ په میاشت کې په کابل کې لاریون وکړ. د ۳۰رسنیو خبریالان د بیان د آزادۍ د قربانیانو د منار جوړولو لپاره وقف شوي ځای کې راټول شول او د هغو ادارو نومونه یې واخستل چې خبریالانو ته یې معلوماتو نه ورکول او په دې اړه یې یو اعترض لیک هم خپورکړ .

پدې اعتراض لیک کې د هغو دولتي ادارو نومونه مشخص شوي وو چې خبریالانو ته یې اطلاعات نه ورکول لکه ستره محکمه ، د لوی څارنوالۍ دفتر ، ملي امنیت اداره ، د ملي تدارکاتو دفتر ، د ولسمشر دفتر ، د بهرنیو چارو وزارت ، د مالیې وزارت ، د افغانستان بانک ، د ملي دفاع وزارت ، کورنیو چارو او دعامې روغتیا وزارتونه شامل دي. دغو ادارو د مالوماتو په ورکولو کې ځنډ کړی او ان ډیری وخت یې نه دي شریک کړي . رسنیو له حکومت ، نړیوالې ټولنې او د رسنیو د حقونو له ملاتړ سازمانونو څخه وغوښتل چې مالوماتو ته د لاسرسي لپاره او دغه راز د بیان او رسنیود ساتنې لپاره کار وکړي ترڅو د بیان او رسنیو ازادي او د ډیموکراسي پروسې خوندي او پیاوړې شي .

دغو لاریون کوونکو د حکومتي سانسور وروستۍ قضیه د رسنیو د ازادۍ د ملاتړ نړیوال ایتلاف ته دافغانستان شامليدو دغونډې په جریان کې د ولسمشر د دوهم معاون محمد سرور دانش د دفتر لخوا خپور شوی انځورګنې چې پکې د ولسمشر د لومړي مرستیال جنرال عبدالرشید دوستم انځور لیرې شوی و وښوده، د ښاغلي دانش دفتر د ۲۰۲۰ د جنورۍ په ۲۷مه دغه تصویر خپورکړی وه. ورسته بیا د ښاغلي دانش دفتر دغه عمل تخنیکي تیروتنه وبلله او بخښنه یې وغوښته.

هغه څه چې د پاملرنې وړ دي دا دي چې د افغانستان اطلاعاتو ته د لاسرسۍ قانون د نړۍ په کچه د یوه غوره قانون عنوان ځان ته ځانګړی کړی. لیکن د تطبیق په برخه کې یې د حکومت لخوا اوس هم جدي ننګونې شته دي.
ولسمشر په دې خاطر چې د رسنیو اړوند قوانین ښه تطبیق شي تر څو د بیان ازادي لا غښتلې او پیاوړې شي او اطلاعاتو ته لاسرسی تآمین شي د ۱۳۹۴ کال د سلواغې میاشت کې یو حکم صادر کړ.

په دغه حکم کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون او عدلیې وزارت مکلف شوي وو تر څو اړوند تقنیني اسناد تصنیف کړي، اطلاعات ډلبندي او طی مراحل کړي. چې د هغه په پام کې نیولو سره اطلاعاتوته د لاسرسي په برخه کې اداري مکلفې شوي تر څو د اسرارو په ساتنې سره د ملي او نړیوالو معیارونو په نظر کې نیولو سره اطلاعات تفکیک کیږي. خو تر اوسه هم لا اطلاعات تصنیف او ډلبندي شوي نه دي او اطلاعاتو ته د لاسرسۍ له اړخه ستونزې لا هم پرخپل ځای پاتې دي.

د ویلو وړ ده چې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې په خپل ویب سایټ کې یوه پاڼه اطلاعاتو ته د نه لاسرسۍ د شکایتونو د ثبتولو په موخه پرانستې ده.له دې سره خبریالان د هیواد له هرې برخې څخه پرته له دې چې وخت یې ضایع شي اطلاعاتو ته د نه لاسرسۍ شکایت درج کولی شي چې هغه به په اټوماټیک شکل سره اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسیون ته راجع شي. په نږدې راتلونکې کې به دا پاڼه د خبریالانو په واک کې وي.

**لويې ښارنوالۍ ته د ټولنيزو رسنيو د ۳۹ تنه کارونکو ورپيژندنه**

د ۲۰۲۰ د فبرورۍ په لومړۍ د زرغون بهير لخوا چې مشري يې د دولت جوړونکي ټيم لومړی مرستيال امرالله صالح لري،لويې ښارنوالۍ ته د ټولنيزو رسنيو د ۳۹ تنه کارونکو ورپيژندنې د خلکو او د بيان د ازادۍ د ملاتړو ادارو د غبرګون ښودلو سبب شو. د ټولييزی رسنيو يو شمير کارونکو هم دغه کار د بيان د ازادۍ سانسور او د طالبانو د حکومت له وخت سره يې ورته عمل وباله. د ښځې نړيوال سازمان هم په خپله رسمي ټويټر پاڼه کې لويې ښارنوالۍ ته د امرالله صالح له لوري په ټولنيزو شبکو کې د پوستونو له امله د ۳۹ تنو په معرفي ژوره اندېښنه وښوده. ياد بنسټ زياته کړه، چې هيڅوک هم بايد د بيان د ازادۍ د سوله ييز حق په خاطر له بدل اخيستو سره مخ نشي.
لويې ښارنوالۍ د رسنيزو بنسټونو د ملاتړ د ادارو له غبرګونونو وروسته د جزا کوډ ۶۸۱ يمې مادې ته په کتو، چې له مخې يې د سپکاوي او ښکنځلو جرم په شکايت کوونکي پورې اړوند ګڼلی نه کومې بلې ادارې يا کس پورې، د زرغون بهير شکايت بيرته وروګرځاوه. دا شکاياتونه د فيسبوک د ۳۹ تنه کارونکو په ضد، چې ګواکې امرالله صالح ته يې سپکاوی کړی او سپکې سپورې يې ويلي، ثبت شوي وو. البته د دغو شکايتونو پر وړاندې په ملي او نړيواله کچه د رسنيو ملاتړو بنسټونو غبرګون وښود او دا يې د قانون خلاف او د بيان د ازادۍ محدودول وبلل.

د دې شکايتونو په اړه د افغان خبريالانو د خونديتوب کمېټې مطبوعاتي کنفرانس جوړ کړ او له لويې ښارنوالۍ څخه يې غوښتنه وکړه، چې په دې موضوع کې دې د ټولييزو رسنيو د قانون احکام په پام کې ونيسي تر څو د بيان د ازادۍ فضا زيانمنه نشي. له قانون پورته دغه شان نا قانونه کړنې په هېواد کې د رسنيزو فعالينو ترمينځ د وېرې او ډار لامل ګرځي. کمېټې همدا راز له لويې ښارنوالۍ څخه غوښتنه وکړه، چې د رسنيو اړوند په جرمي مسايلو کې هيڅ قضيه د رسنيو د سرغړاوي د کميسيون له لومړنيو پلټنو پرته ونه څېړي. د همدې اعتراضونو په پايله کې لويې ښارنوالۍ د زرغون بهير شکايتونه مسترد کړل.

**د سولې خبرې اترې او د بيان ازادي**

د سولې د خبرو اترو له پيلېدو سره، کره، پر وخت، بشپړ، ازاد او بې طرفه اطلاعات او معلومات د خبريالانو په واک کې نه دې ورکړل شوي، او د سولې په اړه چې هر څه ويل شوي د خبريالانو له حضور پرته شوي. د خبرو اترو په يوه اړخ کې طالبان دي، چې د بيان د ازادۍ په ګډون هيڅ ډول بشري حقونو ته درناوی نه لري او بل اړخ يې هغه حکومت دی، چې ځان د بيان او رسنيو د ازادۍ مدافع بولي، خو بيا هم د خبرو اترو د څرنګوالي په اړه رسنيو ته کره معلومات نه ورکوي.
د افغانستان حکومت په مارچ مياشت کې د خبرو اترو ۲۱ کسيز پلاوی رسنيز کړ، خو په دې ليست کې د رسنيو د ټولنې په استازيتوب د هيڅ کوم غړي نوم نشته، چې دا په خپل ذات کې رسنيو ته د حکومت نه پاملرنه او يا هم د بيان له ازادي څخه د دوی د ويرې ښرګندوي کوي.
په دې برخه کې د خبريالانو او رسنيزو بنسټونو د ملاتړ ادارو اندېښنه دا ده چې د سولې مرکچي پلاوي کې د رسنيزې کورنۍ د استازي نشتون به د دې لامل شي چې د رسنيو او بيان د ازادۍ او فعاليت ساحه محدوده شي او په سمه توګه به خلک د خبرو

اترو له جریان څخه خبر نشي. د خبریالانو د ملاتړ او صنفي ټولنو له پرلپسې هڅو او غوښتنو سره سره لا هم افغان دولت په دې برخه کې کوم اقدام نه دی کړی.
د بیان او رسنیو د ازادۍ په ارزښت د افغان حکومت نه ټینګار او ورسره په دې اړه د طالبانو ایډیالوژیک مخالفت د هیواد د خبریالانو په ټولنه کې د پراخې اندیښنې لامل شوی دی.

**د بیان د ازادۍ د ساتنې لپاره د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د لارې نقشه**

له طالبانو سره د سولې په خبرو کې د بیان د ازادۍ په اړه پورتنیو اندېښنو ته په کتو او د دواړو لوریو له خوا دې مسلې ته د پام وړ نه پاملرنه د دې لامل شوه، چې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمېټه د بیان ازادۍ د ساتنې په پار د ژورنالیستانو د فدراسیون په ګډون د خبریالانو د دفاع د یو شمېر نورو بنسټونو په ملتیا یوه طرحه جوړه کړي. دا طرحه چې د ملي مصالحې شورا د رئیس ډاکټر عبدالله عبدالله په ګډون د حکومت بېلابېلو مسوولینو ته سپارل شوې، د سولې خبرو په جریان کې د بیان د ازادۍ په ساتنې پکې ټینګار شوی دی. ښاغلي عبدالله د کمېټې له دې طرحې ملاتړ وکړ او زیاته یې کړه، چې د بیان ازادي د ولسواکۍ له بنسټونو څخه ده او دوی یې په ساتنه مکلف دي.

په دې طرحه کې له بین الافغاني خبرو اترو وړاندې د بیان د ازادۍ د ساتنې لپاره د یوې کمېټې په جوړولو ټینګار شوی دی. د بیان د ازادۍ د ساتنې په کمېټه کې باید د رسنیو او رسنیزو بنسټونو ملاتړي غړیتوب ولري. د یادې کمېټې ملاتړي به همدا راز د بشري حقونو کمیسیون، د ملي شورا دیني، فرهنګي او لوړو زده کړو کمیسیونونه، د اطلاعاتو و فرهنګ وزارت او د مصالحې شورا صلاحیت لرونکي استازي وي.

د بیان د ازادۍ او رسنیو د ساتنې طرحه درې برخې لري له خبرو اترو وړاندې، د خبرو اترو جریان کې او له خبرو اترو وروسته ، چې موخه یې په ټوله کې د بیان ازادي او رسنیو اړوند د لاسته راوړنو ساتنه ده.د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمېټه باوري ده، چې د دې طرحې په عملي کېدو او د بیان د ازادۍ او رسنیو د ساتنې کمېټې په جوړېدو سره به د افغانستان د خلکو او په ځانګړې توګه د رسنیو د ټولنې اندېښنې تر یوه بریده حل او د بیان د ازادۍ اړوند ارزښتونه به تر ډېره خوندي او د لا غوړېدا لپاره به یې هیله مندي زیاته شي.

**د ټولیزو رسنیو د قانون د تازه طرحې ستونزه**

له پورته ستونزو سربېره په وروستیو کې تازه ستونزه د ټولیزو رسنیو د قانون د تعدیل ده چې د هېواد د رسنیزې کورنۍ په باور دا طرحه په ګنو ځایونو کې رسنۍ او خبریالان محدودوي او په دې اړه له دوی سره له وړاندې هیڅ ډول مشوره نه ده شوې. خبریالانو، د خبریالانو له حقونو څخه ملاتړو ادارو او مدني ټولنو د دې طرحې پر وړاندې پراخ غبرګونونه ښرګند کړل او له ولسي جرګې څخه یې د طرحې د را ګرځولو په پار هلې ځلې پیل کړې.
د افغان خبریالانو خوندیتوب کمېټې د افغانستان د رسنیزو بنسټونو په ملتیا ولسمشر ته پرانیستی لیک ولېږه او ورڅخه یې

غوښتنه وکړه، چې د حکومت له لوري د ټولییزو رسنیو د قانون لېږلې طرحه له پارلمان څخه بیرته را وګرځوي.د ولسمشر په نوم په پرانیستي لیک کې راغلي، چې د ټولیزو رسنیو قانون په تېرو دوو لسیزو کې څلور ځلې تصویب او توشیح شوی دی، چې ځینې برخې یې محدودونکې شوي او په ځینو نورو برخو کې یې اسانتیاوې رامنځته شوي او همدا پرلپسې تعدیلاتو یې د قانون د ثبات اصل زیانمن کړی دی. له دې ټولو سربېره، هغه قانون چې په ۱۳۸۸ کال کې تصویب او توشیح شو، له ټولو نیمګړتیاو سره سره د هېواد د رسنیزې ټولنې له لوري منل شوی او وضعیت ته په کتو د اړتیاو د تامین لپاره مطلوب قانون بلل شوی دی او د لا ښه والي لپاره یې دوامداره هڅې ترسره شوې.
خو په دې وروستیو کې په نه اټکل کېدونکي توګه موږ یوه طرحه ترلاسه کړې ده، چې له مخې یې یو ځل بیا د ټولیزو رسنیو قانون اصلاح او تعدل کېږي او له بده مرغه اوسنۍ طرحه د اوسني نافذه قانون په پرتله په ځلونو محدود کوونکی او ګڼ شمېر داسې موضوعات پکې ځای پر ځای شوي دي، چې د اساسي قانون او نړیوالو میثاقونو خلاف دي. هغو مبهمو او محدود کوونکیو موضوعاتو ته چې په دې طرحه کې ځای ورکړل شوی دی په لاندې ډول دي:

۱. د قانون دا طرحه د اساسي قانون د ۷، ۳۴، ۱۲۰ او ۱۲۲ مادو خلاف ده. د اساسي قانون ۳۴ ماده د بیان ازادي له محدودیت پرته تضمین کړې ده، خو د قانون په تعدیل شوې بڼه کې د پام وړ ډېر محدودیتونه راغلي، چې د دې مادې خلاف دي. د اساسي قانون له ۱۲۰ او ۱۲۲ مادو سره سم د هرې قضیې وروستۍ پریکړه د محکمې په واک کې ده، خو د تازه طرحې له مخې دا صلاحیت هم حکومت ته ورکړل شوی دی.
۲. د اساسي قانون په ۷مه ماده کې ټینګار شوی، چې د نړیوالو میثاقونو موادو ته باید په قوانینو کې ځای ورکړل شي، خو د قانون د دې طرحې ډېری مادې د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې د ۱۹مې مادې خلاف دي. د بشري حقونو د اعلامیې یاده ماده هم د بیان د ازادۍ په تضمین ټینګار کوي.

۳. د منابعو د افشا په برخه کې د رسنیو ملاتړي احکام له منځه وړل شوي او د رسنیو د جوازونو له مینځه وړل هم اسانه شوي دي.

۴. د ممنوعه مطالبو مصداقونه زیات شوي دي.
۵. د څارنې بنسټونو خپلواکي هم محدوده شوې ده.
۶. له نشر وړاندې او وروسته سانسور یادونه شوې ده.
۷. د حکومت د څارنې بنسټونو ته پراخ، محدود کوونکي او بې اړتیا واکونه ورکړل شوي دي.
۸. د رسنیو او خبریالانو یو لړ حقوق او امتیازونه له منځه وړل شوي دي.
۹. د ملي راډیو تلویزیون خپلواکي لا زیاته تر سوال لاندې راغلې.

وروسته د ولسمشر ویاندویانو او نیږدې کسانو وویل، چې دا قانون لا هم طی مراحل شوی نه دی. وروسته د کابینې په ناسته کې پرېکړه وشوه، چې دا طرحه دې له پارلمان څخه بیرته وغوښتل شي او د ولسمشر د دویم مرستیال سرور دانش تر نظر لاندې په ګډې کمېټې کې پرې لا زیات بحث وشي.

د قانون تعدیل په خپل ذات کې کومه ستونزه نه ده، خو په دې شرط چې په رسنیو د محدودیتونو د وضع کولو پر ځای قانون لا غني او ځواکمن شي. نه دا چې د رسنیو د فعالیت په برخه کې نورې ستونزې را ولاړې کړی چې په هغه صورت کې به بیا د منلو وړ نه وي،د ټولییزو رسنیو د قانون د تعدیل په اړه د خبریالانو او نظر خاوندانو نظر اخیستل او ورسره مشوره کول تر ټولو ښه لاره ده، ترڅو د بیان ازادي او رسنیو په برخه کې د دوو لسیزو ستره لاسته راوړنه خوندي کړای شي.

**پایله**

- د ۲۰۲۰ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي قضیې د تیرکال همدې وخت په اندازه وې، په دغه موده کې د خورشید ټلویزون پر موټر برید د خبریالانو پروړاندې د نویو تاوریخوالو د یوې څپې ګواښ کیدای شي او دا څرګندوي چې لاهم رسنۍ د داعش او طالبانو ډلو د جنګي اهدافو په سر کې دي. نو ځکه اړتیا ده چې د خوندیتوب او ساتنې جدي تابیاوې ونیول شي. د کرونا وایروس له خپرېدو سره سم په هېواد کې د رسنیو او خبریالانو وضعیت د پخوا په پرتله له ډېرو جدي ګواښونو سره مخ شوی دی او یو شمېر رسنیو د مالي ستونزو له امله خپلې خپرونې کمې کړې دي او د سقوط له ګواښ سره مخ دي. دا د دې لامل شوی، چې ځینې خبریالان خپلې دندې له لاسه ورکړي او یا هم د رسنیو له لوري له معاش پرته رخصتي ورکړل شي. په همدې خاطر رسنیو د تولید ظرفیت له لاسه ورکړی او نشي کولای له دې زیاتې خپرونې چمتو کړي.
- تر اوسه په هیڅ دولتي اداره کې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون د احکامو د پلي کولو په موخه ځانګړی دفتر پرانیستل شوی نه دی، ترڅو په منظمه توګه په خپل وخت معلومات شریک کړي. که څه هم د چارو مسوولین ادعا کوي، چې په ځینو دولتي ادارو کې یې د اطلاعاتو د ورکړې دفترونه رامنځته کړي، خو هغه څه چې په قانون کې یې وړاندوینه شوې، دا دفترونه هغسې فعالیت نه لري. د دې پر ځای د ویاندویانو په دفترونو بسنه شوې، په داسې حال کې چې د ویاندویانو او مطبوعاتو دفترونه له پخوا په ځینو ادارو کې موجود وو، چې د اطلاعاتو او معلوماتو په شریکو او تنظیمولو کې د پام وړ ګټور نه دي ثابت شوي او یوازې د یادو ادارو د تبلیغاتي اجنډاو په موخه ترې کار اخیستل شوی دی.

- له بلې خوا د سولې خبرې اترې او د بیان اورسنیو د ازادۍ د ساتنې لپاره افغان حکومت کې دقوې ارادې نشتوالي هم په هیواد کې د بیان د ازادۍ راتلونکې له ګواښ سره مخ کړې. د ټولیزو رسنیو قانون د تعدیل هڅې هغه هم د سولې د خبرو اترو په درشل کې بیا اندیښنې لازیاتې کړې دي. نړیواله ټولنه چې پخوا د رسنیو ملاتړې وه اوس یې غږ هغومره اوچت نه دی، چې دې کار هم ددغه ارزښت د ساتنې په اړه د رسنیزې ټولنې اندیښنه زیاته کړې ده. دغه پیښې ددې لامل شوې دي چې د بیان او رسنیو ازادي له جدي ګواښونو سره مخ شي او که چیرې هغه زیانونه چې د بیان ازادۍ ته رسیدلې دي له منځه ولاړنشي او د رسنیو د ساتنې لپاره کوټلي ګامونه پورته نشي، افغانستان به خپله یوه لویه لاسته راوړنه له لاسه ورکړي.

**وړاندیزونه**

د افغانستان حکومت، رسنۍ او د رسنیو ملاتړې اداري باید د خبریالانو او رسنیو د امنیت او خوندیتوب لپاره خپلې هڅې لا زیاتي کړي، د خبریالۍ کار لپاره د امن او خوندي چاپېریال رامنځته کول ددغو بنسټونو ګډو هڅو ته اړتیا لري. خبریالان دې هم خپل خوندیتوب ته په لومړیتوب کې ځای ورکړي او له خوندیتوب سره دې د خپل کار د لومړۍ مولفې په توګه چلن وکړي. د خبریالۍ په مسلک کې هیڅ شی هم د خبریال له خوندیتوب نه لوړ نشي اوسیدای او دا باید د یو اصل په توګه د خبریالانو له خوا مراعات شي.
د خبریالانو د مالي ستونزو په ډېریدو سره دې نړیواله ټولنه له رسنیو سره مرستې په خپلو ستراتیژیکو لومړیتوبونو کې شاملې کړي. په تیرو دوو لسیزو کې نړیوالې ټولنې د افغانستان د ازادو رسنیو په غوړیدا کې ځانګړی رول لوبولی دی. ددې لپاره چې رسنۍ  د مدني او ډیموکراتیکو ارزښتونو په ساتنه او لوړاوي کې او هم ښې حکومتولی کې ځانګړی رول لري، د اطلاعاتو د رسونې ازاده فضا باید د نه معاملې وړ یو اصل په توګه د نړیوالې ټولنې لخوا وانګیرل شي او له دې لارې د رسنیو ملاتړ وشي.
د ټولییزو رسنیو د قانون د تعدیل هڅې دې ودرول شي، په داسې یو حساس وخت کې حکومت باید د رسنیو او بیان ازادۍ د محدودولو پرځای، هڅه وکړي ترڅو د سولې د پروسې له رسمي پیل څخه وړاندې مدني ازادۍ لا پیاوړې کړي. نړیواله ټولنه باید په دې برخه کې کلک او جدي دریځ غوره کړي ځکه چې د طالبانو له راپرځیدو وروسته د مدني ازادیو په غوړیدا کې د نړیوالې ټولنې رول خورا ډېر ارزښتناک و.

د سولې په خبرو اترو کې مرکچي پلاوی باید د بیان او رسنو د ازادۍ له ارزښت نه د یو نه معاملې وړ ارزښت په توګه دفاع وکړي. هغه لارښود چې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې په دې اړه چمتو کړی دی، د رسنیو د ساتنې لپاره ډېره یوه جامع او ګټوره طرحه وړاندې کوي چې مرکچي پلاوی باید ددغې طرحې له مخې د بیان او رسنیو د ازادۍ په تړاو له طالبانو سره خبرو اترو ته کښیني. د یوشمیر ځانګړو نړیوالو بنسټونو لخوا هم ددغې طرحې هرکلی شوی دی او اړتیا ده چې په هراړخیزه توګه عملي شي.

- افغان حکومت باید خبریالانو ته د اطلاعاتو په ورکړه کې د اسانتیاو لپاره تازه او جدي تابیاوې ترلاس لاندې ونیسي. اطلاعاتو ته لاسرسی په یوې جدي او ټول شموله ستونزې بدل شوی او د خبریالۍ د کار پروړاندې یې جدي خنډونه جوړ کړي دي.حکومت باید پوه شي چې په دې برخه کې تیرو هڅو کومه پایله نه ده لرلې نو ځکه اړتیا ده چې یوه تازه طرحه ددغې ستونزې د حل لپاره ترلاس لاندې ونیول شي.

- د خبریالانو کاري خوندیتوب باید د کار قانون او د خصوصي سکټور د تقاعد د مقررې په عملي کولو سره د خبریالانو په هکله جدي وګڼل شي. د خبریالانو صندوق باید د خبریالانو پر وړاندې وځیرل شي او اغیزناکه توګه فعالیت وکړي او په کړکیچنو حالاتو کې د خبریالانو د ګټې اخیستو وي.

- د هیواد خلک او خبریالان باید د سولې د خبر واترو له څرنګوالي خبر واوسي او هم د بیان د ازادۍ حق باید د سولې په خبرو اترو کې یو جدي بحث واوسي.د خبرو اترو په جریان کې دې کوښښ وشي چې د خلکو د حقونو په اړه حیاتي موارد رپوټ کړل شي.

د بیان د ازادی د ساتنې لپاره اړتیا ده چې د خبریالانو صنفي او ملاتړې ادارې د خبریالانو او رسنیو ترڅنګ په همغږې توګه کار وکړي، د خبرواترو له پیل وړاندې د خبریالانو او رسنیو پروړاندې د محدودیت وضع کولو مخه ونیسي. د خبریالانو یووالی به په ټول هیواد کې د بیان د ازادۍ د حق د پایښت تضمینونکی وي.